عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۱/۰۸

# بله لاره نشته!

د ډیورند دواړو غاړو ته، د جهل و جنګ خونړي ښامار په داړو کې پرتو ځورېدونکیو افغانانو!

د پېچلي نوي استخباراتي لوبې څنډې پراخي او د یوې اورنۍ لاوا په بڼه رارواني دي، چي افغانان وربیي. پر دې د ټولو توافق شته. یوه نېکمرغي دا ده، چي ټولو افغانانو د دغي نوې بلا د راتلو تورسیوری او د پېښتو شومه ښکالو احساس کړي دي.

د افغانژغورني ملي نهضت د منظور پښتین او د هغه د وفادارو ملګرو هڅي او ولسي څپې د ژغورني روستني سنګرونه او امیدونه دي.

دا بابولالي پرېږدئ، چي تشدد غوره کړو که عدم تشدد؟
ولس لا نه تشدد ته چمتو کړای شوی، نه عدم تشدد ته. لومړیتوبونه وپېژنئ!
تاسو یو ځل د عمل کولو اراده وروزئ، په ولس کې شعور لوړ کړئ، ولس یو موټی او په یوه شعوري محور سره راغونډ کړئ، لسګونه میلیونه پرګنې راوخوځوئ، تر هغه روسته بیا همدغه راوېښ شوی او راخوځېدلی ولس پخپله پرېکړه کولای شي، چي د ځانژغورني لپاره تشدد وکړي، که عدم تشدد؟

د پښتونژغورني غورځنګ چي لاتراوسه څه کوي، ډېره ښه یې کوي، ځکه دوی لا هم د ولس په راویښولو، سره یو کولو او راخوځولو بوخت دي.

د تاریخ د یوه شاګرد په توګه یې درته وایم، چي هېڅ سیاسي رهبر او هېڅ ملي پاڅون د شمبر او ځرنګوالي له پلوه د هېڅ بلي ملي داعیې لپاره دومره افغانان نه وو راخوځولي لکه اوس چي د منظور او نورو ملګریو په غږ راوځي او خپل یووالی تمثیلوي.

بل ګام باید له دغه را پاڅېدلي ولس څخه د یوه شعوري، باهدفه او دوام ورکوونکي ځواک جوړول او د نړیوالو - سیمه ییزو استخباراتو په وړاندې سنجول شوی سیاسي اقدام وي.

موږ باید تر اخره وړاندي ولاړ شو،
دوی غواړي موږ ووژني، موږ به یو بل نه وژنو،
دوی غواړي موږ سره وویشي، موږ به سره یو پاتې کېږو،
دوی غواړي موږ تکفیر کړي، موږ به ورته وایو د تکفیر زمانه تېره شوې ده.

دوی به بالاخره زموږ سرچینې؛ زمکه، اوبه، کانونه، بشري ځواک، جغرافیایي موقعیت او د تاریخ و فرهنګ بډایي خزانې لوټي او موږ به دا ټول ساتو او د ځان په ګټه به یې کارول زده کوو.
ټوله کیسه همدا ده .
له دې خونړي دوران څخه د وتلو لاره غواړئ؟
بس:
ولس راویښ کړئ، راویې خوځوئ او د یوه ملي، ولسواک، متمدن، موډېرن، د علم و ساینس په ګټو سنبال ملي حاکمیت رامنځ ته کېدو ته لار هواره کړئ.

**بله لاره نشته!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ